PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

جهادهنداره

مراة الجهاد

دجهادی تنظیمونو مشرانو دپاکستان له صدراعظم سره وکتل

اسلام اباد ، دعقرب دوهمه نیټه :
دافغانستان دجهادی تنظیمونو مشرانو تیره اونی په اسلام آباد کی دپاکستان دصدراعظم میانوازشریف سره دپاکستان دصدارت عظمی په ماڼۍ کی لیدنه کتنه وکړه.
دپاکستان ددولتی اژانس دخبر له مخی پدی لیدنه کتنه کی په پیښور کی دمیشته جهادی تنظیمونو مشرانواو استازو نه علاوه دسعودی عربستان دپادشاه استازی شهزاده ترکی الفیصل هم برخه درلوده ، خبرونه وایی چی پدی لیدنه کتنه کی دافغانستان دمسلی دحل په لارو چارو باندی خبری اتری وشوی اودتنظیمونو له مشرانو څخه وغوښتل شول چی په خپل منځ کی داتحاد او اتفاق راوستو لپاره هلی ځلی وکړی .

دکابل رژیم یو جنرال دهلمند په ولایت کی ووژل شو

هلمند ، میډیا :
په پیښور کی یو جهادی خبر ځای میډیا ته رپوټ ورکړ چی دکابل رژیم دمسلحو قواو یو تن جنرال چی علاو الدین نومیږی دمیزان په ۱۹ مه نیټه دهلمند د ولایت دلشکرگاه ښار کی ووژل شو ، خبرونه وایی چی دنوموړی جنرال دسپرلۍ موټر ښار ته نږدی دپوستو دکتنی په وخت کی دمجاهدینو په یو اېښود ل شوی مین باندی وروختلو اوله منځه لاړ چی دجنرال څو تنه محافظین هم پکی ووژل شوی.په گردیز کی دکمونست رژیم د وژل شویو افسرانو جنرال جلال الدین اووالی انور حاصل وروسته دیوی هفتی په ترځ کی دادریم لوړرتبه دی چی په وسله والو قواوو کی دجگړی په وخت له منځه تللی دی .

دوهم کال اوومه (پرله پسي ۵۹مه)گڼه ، چهارشنبه د ۱۳۷۰هـ ش دعقرب (۸مه) د۱٤۱۲هـ ق دربیع الاخر(۲۲مه)، د۱۹۹۱ م کال داکتوبر (۳۰ مه)

دکابل ښار نظامی مرکزونه دمجاهدینو تر برید لاندی

ددفاع وزارت ، قرغه ، پلچرخی ، هوایی ډگر دمجاهدینو دوزو ښې وی

په ۷ مخ کي

هند اواسرائیل به ډیرژر سفارتی اړیکی ټینگی کړی

نوی دهلی ، دعقرب ٤مه :
دخپرو شویو خبرونو له مخی هند اواسرائیل به زر تر زره په خپل منځ کی دسفیرانو په سویه ډیپلوماتیکی اړیکی ټینگی کړی دهند یوه وزیر چی داسرائیلو څخه یی دلیدنی کتنی په ترځ کی له ضحاك شمیر سره هم خبری کړی داخبره څرگنده کړی ده دهند اواسرائیلو تر منځ په مختلفو برخوکی اړیکی پدی وروستیو کی ډیری پرمخ تللی دی ، اوداخبره ښکاره کوی د(الکفرملة واحد) په مصداق یهوداوهندوان دمسلمانانو دضعف اوکمزورۍ څخه په استفادی سره غواړی خپل شوم پلانونه پلی کړی .

په گردیز کي مکار دښمن دماتي اوگريز په حال کي

دگردیز دمورچلونو دتودو جگړو راپورتاژ

په دوهم مخ

دجگړې له جریان څخه پوره مطمئن یو څکه تراوسه چې کوم ځایونه مجاهدینو فتحه کړي هغه بیا دښمن نه دي نیولي

«الحاج محمد ابراهیم»

دراپور تاژ په متن کې

دکابل رژیم دگردیز والی دمجاهدینو دډزوله امله ووژل شو

انور حاصل داصلی دندی پرته د خاد د جاسوسی اداري فعال غړی وو

په ۷ مخ

مسلمانان یوگوسلاویا خواهان آزادی اند

رهبران مسلمانان درشمال غرب جمهوریت«سربیا»دریوگوسلاویا همه پرسی عمومی را روی مسئله آزادی مسلمانان ان منطقه براه انداخته اند که مدت ۳ روز ادامه خواهد داشت .
رادیو صدای امریکا ضمن نشر این خبر افزوده است که مسلمانان سربیا طی این همه پرسی حق رای دهی سیاسی خود را استعمال خواهند کرد .
همچنان درخبر گفته شده که اگر حکام دولتی جمهوری سربیا درجریان این همه پرسی مداخله نمایند ، رای گیری مذکور در منازل مسلمانان صورت خواهد گرفت .

درایور سفیر بریتانیا درمسکو جاسوس کی ، جی ، بی بود

مسکو ، اژانس المان :
درایور سفیر انگلستان مقیم مسکو اعتراف نموده است که اوبرای سازمان کی ، جی ، بی جاسوسی می کرد.
کونستن تین این اعتراف راضمن مصاحبه بایك مجله ادبی چاپ روسیه نموده است ، درایور موصوف درجواب یك سوال اظهار داشته است که وی از مدت ۲۰ سال بدینسو جاسوسی می نموده است .

په نیول شوي کشمیر کي دهند دتیری کلیزه وغندل شوه

په ټول کشمیرکی دمجاهدینو په غوښتنه عمومی اعتصاب

درصفحه

دراولین ازمایش اتومی روسیه ٤٤ هزار افراد ارتش به قتل رسیدند

روزنامه«پراودا» ازواقعه سال ۱۹۵٤ پرده برمی دارد

درصفحه ۸

دمغلستان کمونست حکمران په یوه لیږه کي یولك انسانان وژلي

دمغلستان په شمال لویدیزه برخه کي دنویو دله ایزو قبرونو انکشاف

په ۸ مخ کي

مخالفت وسیع همه مردم هندوستان علیه تعمیر درمسال دراجودهیا

په ۸ مخ کي

دپاکستان دااقتصاد دتخریب لپاره دهند اواسرائیلو گډ پلان

په پاریس کی دهند دیوه وزیر اوداسرائیلو دمتعصبو مشرانو لیدنه کتنه

په ۷ مخ کي

سرمقاله

روسیی ته دمجاهدینو دهیئت دتگ په اړه ددفتراوسنگر فیصلی

په دی وروستیووختونو کی چی روسانو یو ځل بیا په پاکستان کی دخپل سفارت له لاری مجاهدینو ته بلنه ورکړی وه چی توی دي دافغانستان دقضیی دسیاسی حل په اړه دخبرواترو لپاره یو هیئت مسکوته ورولیږی ، ددی بلنی په وړاندی له هماغه پیل څخه جهادی څواکونه په دوو ډلوویشل شول ؛ یوه ډله چی په ترکیب کی یې دری غیر مؤثر جهادی تنظیمونه شامل وو ، دهیئت لیږلو ته یې خپل بشپړ چمتوالی وښود ، اوپه ډاگه یې کړه چی دملی نجات دجبهی دمشرحضرت صبغت الله مجددی تر مشری لاندی به دمجاهدینو یو هیئت له روسانو سره دمخامخ خبرو اترو لپاره مسکو ته ولاړشی، بله څواځلورو نوروجهادی څواکمنوتنظیمونو دبیلو بیلو عواملو له مخې په دغو شرایطو خبری اتری ردولی ، هغه یی دجهاد او اسلامی انقلاب سره جفا تلقی کوله ، اوله روسانو سره یی دخبرو اترو لپاره بیل بیل شرایط اوغوښتنی لرلی. تیری دوه اونی دامسئله چی له روسانو سره دي خبري اترې وشي او که نه دمطبوعاتو ډیره توده

په ۸ مخ

روسیی ته دمجاهدینو دهیئت دتگ په اړه دیکشتیادجهادی سنگرونو د قوماندانانو گډه اعلامیه

په ۷ مخ کي

دعراق په سلیمانیه ښار کي دکُردانو دله ایزقبرونه پیداشوی

دوحشی صدام دجنایت یوه بله بیلگه

په ۸ مخ کي

دهند او امریکا تر منځ دنظامی مرستو معاهده

په ۸ مخ کي

کوم هیئت چی اوس دمجاهدینو په نوم له روسانو سره دخبرو اترولپاره مسکو ته ځي ، هغه دافغانستان دمجاهد ملت نمایندگي نه کوي

(دجهادي سنگرونو دقوماندانانو له گډې اعلامیې څخه

جهادهنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

په گردیزکی مکاردښمن دماتی اوگریز په حال کی

دگردیز دمورچلونودتودو جگړو راپور تاژ

درپوټونو تهیه کوونکي : ننگیال او محمد یعقوب   عکاسي : احمد سینا احمدي

دمیزان په ۲۲ مه نیټه سهار مو‌دزرمت په استقامت حرکت وکړ، له غرمی مخکی لس نیمی بجی وی چی په زرمت کی دحضرت عمرفاروق(رض) غونډ مرکز ته وروسیدو هلته مو دغونډ

له مرستیال جگړن زرمیر خان سره چی نوی دتیری له استقامت څخه راستون شوی ؤ لیدنه وشوه . جگړن صاحب زموږ ددغی پوښتنی په ځواب کی چی دتیري لار ولی په بشپړه توگه نده بنده شوی وویل :

دری ورځی مخکی دلاری دبندولو پروگرام ؤ موږ مکمل احضارات نیولی ؤ، خو دمچلغو له خوااحوال راغی چی تاسی خپل پروگرام لږوځنډوی ، ترڅو ددی کار لپاره گډ پلان جوړکړی شی نوموړی زیاته کړه دمیزان په ۲۰ نیټه زموږ اودحاجی کرمی مجاهدینو په تیره کی ددښمن په یوه پوځی پوسته عملیات وکړل چی دهغی په نتیجه کی ددښمن پوسته فتحه شوه .نوموړی دلاری بندیدو په هکله وویل : مجاهدین باید دلاری په اوږدو کی شبخون اجراکری ، په دې توگه کیدای شي دښمن ترزیات تاوان واوړي ،اوپه دی توگه دالار ددښمن دنقل او حرکت له استفادی څخه پاتی شی په مرکزکی مو دمجاهدینوله یوه بل قوماندان حاجی امان الله خان سره هم وکتل نوموړی

دلاری دبندیدو په رابطه وویل: زه په داگه وایم چی پدی استقامت دمجاهدینو تر منځ لکه څنگه چی ښایی هم آهنگی نده موجوده ، که څه هم شوراگانی کیږی خو بیاهم پدی رابطه یو څه مشکلات لیدل کیږی ، دوی زیاته کړه : ځینی تنظیمونه اوقوتونه چی په شوراکی کومه پریکړه منی په عملی ډگر کی بیا وروسته لیدل کیږی اوکله کله خودگړی فیصلی له عملی کیدو ځان گوښه کوی دوی زیاته کړه : که دحملی پروگرامونه سره متحد شی ، په هغه صورت کی لاره په اسانی سره بندیدی شی .

بیامو دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ له قوماندان نوماند مجاهد الحاج محمد ابراهیم سره ملاقات وشو دحضرت عمرفاروق غونډ دزرمت په استقامت داسی پیاوړی جهادی ځواکونه تشکیل کړی چی دخپلو جنگی تاکتیکونو اوا غیزمنی

که څه هم دزرمت په ساحه کی دکنی له استقامته دتیری تر استقامت پوری دټولو تنظیمونو مجاهدین موجود دی خو دهر تنظیم لپاره بیا یو ځانگړی استقامت ټاکل شوی دی ، خو ځینی پروگرامونه گډ عملی کیږی اوپه نظامی اهدافو مشترك عملیات کیږی .

زموږ دعملیاتو په نتیجه کی دمیزان په ١٦ نیټه په بهرام خیلو کی ددښمن یوه پوسته فتحه شوه، همدارنگه دسروری په استقامت ددښمن یو کنډك اوڅوپوستی پرتی وی ، موږ عملیات وکړل ددغوعملیاتو په لومړۍ ورځ چی دهغی په نتیجه کی ټول کنډك مجاهدینو ته تسلیم شو.دوه میله راکټ انداز ، یو اس ، پی ، جی ، ۹ دافع ټانك توپونه اوډیر زیات مهمات په غنیمت ونیول شول ، پدغو عملیاتو کی له مجاهدینو څخه ۳ تنه شهیدان او ٤ زخمیان شول .

دوی زیاته کړه : زموږ دوهم تعرض دسروری دقبلی کړ، پدغو عملیاتو کی دښمن دسراومال دراندہ تاوانونه ووابښتل ، اوله مجاهدینو څخه ٦ تنه شهیدان او ٦ تنه زخمیان شول.

همدارنگه دخروار په استقامت دتیری په لار ددرنو وسلو انداخت روان دی ، په زرمت کی هم امید دی چی مشترك پروگرام جوړ شی ، ددی کار لپاره دمجاهدینو دقوتونو تر منځ شوراگانی روانی دی او همدا نن په دغه مرکز کی دشوراغونډه کیدونکی ده .

الحاج محمد ابراهیم دجگړی له وضعی دخپل اطمینان څرگندونه وکړه وویل: زه دجگړی له جریان څخه مطمین یم ، ځکه تر اوسه چی کوم ځایونه مجاهدینو فتحه کړی ، هغه بیا دښمن ندی نیولی او مجاهدینو ددښمن هر تعرض په شا تمبولی دی.

دوی زیاته کړه : ددښمن مقاومت ورځ په ورځ کمزوری کیږی ، کیدی شی جگړه وخت ونیسی او اوږده شی ، ځکه

دحضرت عمر فاروق (رض) د غنډ د مجاهدینو یو ټانک چې پر دښمن باندې د برید لپاره تیاری نیسي

ستراتیژی له مخی یی دښمن ته پولادی گوزارونه ورکړی ، دسروری سوق الجیشی پوستی یی فتحه کړی اوتر ابراهیم خیلو پوری یی دگردیز په لور فاتحانه پرمختگ په برخه شوی اوپه سیمه کی یواځینی منظم پوځی جهادی ځواك گڼل شی ، الحاج محمد ابراهیم په داډمنه لهجه اوشمیرلوخبرودجگړی داوسنی وضعی په هکله په خپلو توضیحاتو کی وویل :

طرف ته ددښمن پر پوستو ؤ چی دهغی په نتیجه کی مو هم دالله تعالی په فضل ددښمن څلور پوستی فتحه کړی اوپه هغه استقامت کی مجاهدینو خپل سنگرونه ټینگ کړل .

همدارنگه دشیخانو په منطقه کی هم مشترك عملیات وشول دښمن عقب نشینی وکړه خوځرنگه چی ډیره زیاته مین کاری یی کړی وه مجاهدینو لازم پرمختگ ونه

یوخوساحه ډیره زیاته ده او موسم هم چندان مساعد ندی ، اوبل داچی دښمن هم ډیره زیاته مین کاری کړی ، خو زموږ امیددی چی گردیز به دالله تعالی په مرسته او نصرت اودمجاهدینو په همت او وحدت فتحه شی.

دمیزان په ۲۲ نیټه دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ په مرکز کی دقوماندانانو دشورا غونډه وه ، په غونډه کی محترم نصرالله منصور

په ٦ مخ کي

کنفرانس «مادرید» واستحکام صلح درشرقمیانه

سمیع الله «تازه»

قرار است کنفرانس صلح شرقمیانه بعد از ماهها تلاش جدی وزیر خارجه امریکا وهمکاری کشورهای منطقه بروزچهارشنبه ۸ عقرب درمادرید مرکز هسپانیا دایرگردد ، درین کنفرانس بین المللی ومهم که با بیانات جورج بش ومیخایل گرباچوف روسای جمهور ایالات متحده و روسیه افتتاح خوهد شد ، هیاتهای از کشورهای سوریه ، اردن ، فلسطین ، لبنان ، مصر واسرائیل اشتراك خواهند ورزید .

این کنفرانس که بعد از هشت ماه تلاش جیمزبیکر ویاپشت سرگذاشتن بساموانع مهم دایر می گردد ، از جهات مختلف حایز اهمیت بسزابوده ولی ازهیمن اکنون نتوانسته است بنابر موضعگیری کورکورانه اسرائیل برای اشتراك کننده گان کنفرانس ومردم جهان که خواستار قطع معضله نیم قرن عرب واسرائیل اند نوید بخش باشد یکی از شرایط کنفرانس اینست که در سطح وزرای خارجه کشورهادایر می گردد ، ولی اسحاق شمیر صدراعظم اسرائیل که تندرو ترین یهودی است وزیر خارجه را کنار زده خودش خواسته است بشمول اردن ، سوریه ، لبنان ، مصر و فلسطینیها نیز باتوجه به انعطاف ناپذیر بودن همیشگی اسحاق شمیر جلسه ای رادردمشق مرکز سوریه دایر نمودند تا در مذاکرات مادرید دربرابر دشمن سخت سر خود مشی متحد رادنبال نمایند ، در پایان مذاکرات دمشق وزیر خارجه سوریه اعلام نمود ، که هیات عرب با هیات سرائیلی پیرامون معضله فلسطین ، قطع سلسله اعمار مناطق مسکونی یهودی ، در مناطق اشغالی وخارج شدن اسرائیل از تمام مناطق که در جنگ ٦٧ انرا اشغال نموده است مذاکره خواهد کرد وی گفته است عربها به اسرائیل صلح میدهند ولی در عوض سر زمین خود را میخواهند درحالیکه اسحاق شمیر صدراعظم اسرائیل گفته است که صلح را با صلح تبادله خواهد کرد ، نه بازمین .

باین ترتیب کنفرانس مادرید بزرگترین ونخستین رویا رویی عربهابا دشمن دیرینه شان اسرائیل درمیز مذاکره میباشدکه از سال ۱۹٤۷ باهم خصومت خونین داشته ودوبارباهم به نبرد خونین پرداخته اند. هدف سوریه ازکنفرانس اینست تابلندی های گولان راکه اسرائیل اشغال نمود ، در بدل صلح بدست اورد ، لبنان ارزومند است تا یکهزارو یکصد وپنجاه کیلو متر خاك در جنو انکشور را که اسرائیل انرا در سال ۱۹۸۵ بنام منطقه امنیتی اشغال نموده قوای خویشرا خارج سازد ولی فلسطینیها بزرگترین دعوای رابا اسرائیل دارند که وطن شانرا اسرائیلی ها بازور برچه وتفنگ اشغال وانها از خانه وکاشانه رانده اند وفلسطینی ها امروز درین کنفرانس خوهان دولت مستقل برای خویش اند.درفیصله نامه سال ۱۹٤۷ ملل متحد کشور واحد فلسطین میان اسرائیلی ها وفلسطینی ها منقسم شد ولی اسرائیلی ها نه تنها ازان ساحات فلسطینی ها راخارج کردند ، بلکه ساحات اضافی درغزه وشرق بیت المقدس نیز اشغال کردند .

فلسطینی ها درین کنفرانس یك حالت بسیار دشوار قرار دارند ، هیات انها در اثر فشار اسرائیل وعدم همکاری کشورهای عربی در زمره هیات اردنی به شکل هیات اردنی فلسطینی درکنفرانس شرکت خواهد کرد ، واین امر واقعا برای فلسطینی ها ناراحت کننده است که هزاران فرزند فلسطین بخاطر استقلال فلسطین خون ریخته اند ولی امروز از هویت مستقل شان که در جامعه ملل سازمان ازادیبخش فلسطین بحیث یگانه نماینده واقعی مردم فلسطین برسمیت شناخته شده درجمله هیات اردنی شرکت می کند. فلسطینی ها در اثر جبهه گیری بطرف صدام درجنگ خلیج خود را ازحمایت مالی وسیاسی کشورهای عربی بخصوص کشورهای جبهه مقدم محروم ساختند امریکا و اسرائیل که منتظرفرصت بخاطر کسب مشروعیت به دولت یهودی درشرقمیانه بودند موقع رامناسب دانستند حل مساله شرقمیانه را بمیان کشیدند امریکا که بعد از سقوط امپراطوری کمونستی در روسیه براریکه برتر در جهان تکیه زده است بعد از ختم جنگ خلیج به حل قضیه شرقمیانه کمر بست اکنون که تقریبا یك هفته به گشایش کنفرانس مادرید باقیمانده است در اثر پافشاری اسرائیل بر موضع نابجای خود از علاقمندان وصمیمت همه به کنفرانس کاسته شده است ولی باانهم بگفته ناظرین این نشست میتواند سر اغاز شکستن کوهی باشد که دو طرف راازهم دور نگهداشته بود اما صرف واقعیت اینست که درشرقمیانه بابودن دولت صهیونستی اسرائیل بااهداف توسعه جویانه اش هیچگاه صلح واقعی بر قرار شده نمیتواند وبهترین حصول صلح در شرقیمانه ایسنت که در هر گونه کنفرانس ونشست مساله فلسطین که هسته مرکزی پرابلم شرقمیانه است در محراق توجه قرار داشته وبه خواست وحقوق حقه مردم مسلمان فلسطین احترام گذاشته شود در غیر ان هیچ نوع کنفرانس مثبت نبوده وهیچگونه صلح پایدار به میان نه خواهد امد .

دمنځنۍ اسیا اسلامي هیوادونه او د افغانانو جهاد

ژباړه او لنډیز: سیدشهریار

دوهمه برخه:

نه دیوه کمونست او بې دینه، زه تاته ددین او ایمان دخوندي ساتلو په خاطر دتلو اجازه درکوم چې ته کوم ازاد هیواد ته ولاړشې.

دمور همدغې فشار زه دې ته اړ کړم چې دیوې شپې په توره تروږمۍ کې مې خپلو کوچنیوورونو اودخویندو وروستي دیدار وکړ اودمور سره یو ځای دکور باغیچې ته راووتم مور مې ډېر نصیحتونه راته وکړل اودرووستي ځل لپاره یې څو څو واره ښکل کړم څو قدمه چې مې واخیستل دغرب اواز مې واوریده شاته مې وکتل مورمې په ځمکه بې هوشه غورځیدلې وه راپورته مې کړه اوبه مې پرې وشیندلې په هوش شوه او راته وېې ویل: بیا ولې راغلې بچیه ته خو ما رخصت کړې وې، دخدای (ج) په خاطر ولاړشه مور مې تر کته ورسوله اوپه اوښکو ډکو سترګو دکوره راووتم په میاشتو میاشتو مې سخت سفرونه او مزلونه وکړل، خوري وري پراخه دښتې وې خو دمسلمانانو ځای پکې نه ؤ په سختو کړاوونو دامو له دریاب څخه افغانستان ته واوختم بیا هندوستان ته اودپاکستان له جوړیدو وروسته دادې په کراچۍ کې شپې ورځې تیروم.

دغه مهاجر د٥٦ کلنۍ په عمر کې دمرګ داعي ته لبیك ووایه خو په خپل ژوند دکوردحاله خبر نشو چې ژوندي دي او که مړه ځکه منځنۍ اسیا سره دګردي نړۍ رابطه شلیدلې وه نه تلیفون کیده او نه خط تلای شو چې اوس هم دغه لړۍ دوام لري.

> دثقافتي پروګرامونو اوسمینارونو له لارې ځوانان دعیاشۍ اوفحاشۍ په دریاب ورګډ اودجمهوریت په نامه یې دبې واکه اوبې باکه ازادۍ غوښتنې ته وهڅوي

کمونستان په کومه طریقه هدف ته رسی:

روسانو په منځنۍ اسیا او افغانستان کې دخپلو اهدافو پلان په دریو مرحلو کې ترسره کړاو همیشه همداسې کوي.

په لومړۍ مرحله کې غریبو او نادارو خلکو ته شنه باغونه او دکمونیزم خیالی جنت !!ورښایي اوپدې یې باوري کوي چې دکارخانو مزدوران به دکارخانو څښتنان اوبزګران به دځمکې خاوندان وي زموږ هلې ځلې دهمدې لپاره دي چې مشکلات ورك، تعلیم عام، ملتونه خپلواك اودښځو حقوق ښځو ته وګټو زموږ دښمني ددین اومذهب سره نه بلکه دسرمایه دارانو او فیوډالانو سره ده په همدې ترتیب دمارکس اولینن نظریو ته داسلام دمبارك دین دعدل اوانصاف سره دمشابهت رنګ ورکړي اوساده خلك پدې وغولوي چې کمونیزم داسلام سره هیڅ تضاد نلري.

په دوهمه مرحله کې داسلامي هیوادو دتعلیم اوتربیې په وزارتونو سیاسي اوملي تنظیمونو اودولتي اوولسي مطبوعاتو اوخپرونو کې خپل بریښي حساسو ځایونو ته ورسوي چې له دې لارې کمونیزم کور په کور خپور کړي په ښوونځیو کې زده کوونکي دافسانو، ناولونو، نظمونو، فلمونو، ډرامو او دتحریرونو او تقریرونو له لارې کمونیزم ته جذب اودځان ملګري وګرځوي، دثقافتي پروګرامونو اوسمینارونو له لارې ځوانان دعیاشۍ او فحاشۍ په دریاب ورګډ او دجمهوریت په نامه یې دبې واکه اوبې باکه ازادۍ غوښتنې ته وهڅوي دروسي رقاصو پواسطه عیاشي خوره اودپخواني تهذیب اوتمدن پورې مسخرې پیل کړي ددولتونو حکمرانان د اقتصادي مرستو په واسطه دځان تابع اودولس دخوښې پرته پریکړې پرې وکړي بلې خواته خپل بریښي اودسیاسي ګوندونو روزل شوي مشران ددولت په مقابل کې راوپاروي، دپیسو په واسطه بې وجدانه خلك دعلماوو سپکاوي اوریشخند وهلو ته چمتو کړي تر څو په هیواد کی الې ګولی راپیدا اودیرغل لپاره زمینه برابره کړي.

په دریمه مرحله کی نو دیرغل لپاره ډګر بیخي خالي وي ځکه هیواد ګډوډیو اوناارامیوپه سراخیستي وي دامنیت دراوستو په نامه دتړلو وعدو اومعاهدو سره یو ځای یرغل وکړي لومړۍ دهغو نا اهلو حکمرانانو خاتمه کوم چې ددوي په لاسو دګوډاګیانو په څیر لوبیدې بیا دهمغه هیواد څخه خپل روزل شوي بچې چې په نوم مسلمان خو عقیده یې دلوې خدای (ج) دوحدانیت څخه انکاروي داقتدار په ګدۍ کینوي پدغه وخت کې نو روسي کمونستان خپلو هلو ځلوته چټکتیا ورکړي او دهغو خلکو په ځپنه اوټکونه لاس پورې کړي چې ددولت اوکمونیزم مخالفت کوي په همدې ترتیب یې په منځنۍ اسیا اوافغانستان کې داسې داستانونه پریښې دي چې چنګیز اوهلاکو ورته ګوته په غاښ پاتې کیږي.

> روسان اوکمونستان څه خبر ؤ چې موږ به په داسې ملت واوړو چې دصحابه کرامو له وخته څخه راپدیخوایی ټول ژوند په اسلام کی تیر کړي دی نه یې دچا غلامي کړیده، اونه یې دچاباداري منلې ده.

دکمونستانو په مقابل کی دافغانانو جهاد:

په منځنۍ اسیا کې دمسلمانانو دزبیښلو څخه سمدستي وروسته دروسي کمونستانو مخ دافغانستان پلو واوښت دلومړۍ مرحلې پلان یې په کار واچاوه او سرته یې ورساوه ددوهمې مرحلې کارېې دظاهر شاه دحکومت په دوره کې پلې اوداؤدخان دحکومت دپای (د۱۹۷۸ کال داپریل دمیاشتې پورې) سرته ورساوه، تر دغه وخته پورې ځنې بې وجدانه تش په نامه افغانان چې (داسلام ددین سره نا اشنا و) دکمونیزم په دریاب ورګډ شوي ؤ روسانو همدغه خلك په دولت کې لوړو لوړو چوکیو ته ورسول هغه متعلمین چې مخکې له مخکې یې کمونستي مفکوره په ذهنونو کې ځای پر ځای شوې وه روسي ته دنورو زده کړو لپاره ولاړل، چې دبیرته راتګ وروسته یې خپل کلتور اوفرهنګ له یاده وتلی ؤ عقیده یې بې دیني اومفکوره یې کمونستي وه همدغه شان خلك په سیاست اوپوځ کی حساسو ځایونو ته رسیدلي ؤ لنډه داچې هغه کارونه ټول سرته رسیدلي ؤ کوم چې روسان په دوهمه مرحله کې سرته رسوي. ددریمې مرحلې دکارپیل یې دثورانقلاب په نامه وکړ چې

په ۷ مخ کې

کوبیدن اخرین میخ برتابوت کمونیزم وپارچه شدن امپراطوري روسیه

عبدالوکیل

بعد از شکست نظامی روسها در افغانستان و روی کار امدن سیاست گلاسنوست وپروسترویکا در امپراطوری روس، سروصداهای زیاد راجع به نابودی کمونیزم وپارچه شدن امپراطوری روس درسراسر جهان به راه انداخته شد ولی هرگاه باتغییر ات نسبتاً سریع ایکه دراین اواخردرسیاست داخلی وخارجی روسها بوقوع پیوسته است برخوردِاگاهانه ومحتاطانه صورت نگیرد مرتکب اشتباهات جبران ناپذیر خواهیم شد.

قبل ازشکست نظامی روس ها درمقابل مجاهدین افغان، عده کثیراز سیاستمداران، نظامیون وسایر مردم به طور اگاهانه ویا غیر اگاهانه در رابطه به کیفیت نیروو قدرت عملکرد قوای نظامی روسها بیش از واقعیت اهمیت قایل بودند اما درحال حاضر به توانایی وامکاناتیکه روسهادرارتباط به تهدید صلح او امنیت سیاره ما و دراسارت نگاه داشتن مردم تحت تسلط انها وجهان دارد کمتراز واقعیت ان قایل هستند ودربعضی موارد به صورت غیر اگاهانه تبلیغات رابه نفع کمونیزم و روس ها به راه انداخته شده است. تحریف، پوشاندن وتشبث دراین نوع واقعیتها چه به صورت اگاهانه ویاغیر اگاهانه ممکن است در بعضی مواقع به نفع نیروهای صلح طلب و ازادی دوست انجام گیرد لاکن در اکثر اوقات مردم راگول زده و از عملکرد مناسب درمقابل ان ها جلوگیری بعمل می اید روی این ملحوظات هر گاه ما خطر کمونیزم وروسهارا نادیده بگیریم ویا کار انهارا ختم بدانیم و برای نابود ساختن وشکستن اخرین مواضع ومقاومت انها پیکار ومجادله نه نمایم، اشتباه بزرگی خواهد بود.

دراین اواخربت های لینین دزرژنسکی وسایرکمونستهای جابر به زمین انداخته شدحزب کمونست روس منحل اعلام گردید وسروصداهای ضد کمونستی در روس و عده از کشورهای تحت تسلط روس ها به راه انداخته شد اینها بنابر هر ملحوظ ایکه صورت گرفته اند بازهم ضربه مستحکم بر پیکر کمونیزم بود اما باید خاطر نشان ساخت که درشرایط ومرحله کنونی بنیاد های اقتصادی یازیربناء کمونیزم درهمه کشورهای کمونستی پابرجا مانده است که نقش تعین کننده را در تشخیص جوامع بشری دارا میباشد. علاوتاً در ویتنام لاوس کره شمالی وکیوبا که تحت تسلط روسها هستند ویااینکه روسها در انها نفوذ فراوان دارند و درچین، همان سستم کهنه واسبق اقتصادی، سیاسی واجتماعی کمونیزم رویکار میباشد. به همین ترتیب درصورتیکه در روس وبعضی از کشورهای اروپا ی شرقی که در انها از نابودی کمونیزم حرف زده میشود، تغییرات اساسی در زیربنای انهایعنی روی کار امدن مالکیت خصوصی بر وسایل تولید وبازار ازاد عرض اندام نه نمایند، سخنان میان تهی خواهد بود چنانچه تاهنوز به این نوع تغییرات جامه عمل پوشانده نشده است.

در رابطه به پارچه شدن امپراطوری روس باید یاداورشد که هرگاه درهمه سطوح اقتصادی، سیاسی واجتماعی روسیه و امپراطوری ان تغییرات بنیادی بعمل اید و اساسات کمونیزم از بیخ وبن برچیده شود بازهم خصلت استعماری روس باقی خواهد ماند و دستگاه استخباراتی روس فعالیت های شیطانی و استعماری خویش را حفظ خواهد کرد و تااخرین امکانات خود نه تنها به کشورهای تحت سلطه خویش استقلال واقعی نخواهد داد بلکه در اسیر ساختن ملل ازاد ومستقل جهان از هیچ نوع تلاش واعمال ضد بشری دریغ نخواهد کردیك سلسله تغییرات ظاهری سیاسی ایکه به دستور روسها دربعضی کشورهای اروپای شرقی رخ داده است عدهٔاز اشخاص انراطوری پنداشته اند که کشورهای مذکور از روسها استقلال سیاسی واقتصادی کسب نموده اند و انها را کشورهای نوبه ازادی رسیده اعلان مینمایند درحالیکه کشورهای اروپای شرقی (چکوسلواکیا، پولیند، هنگری، بلغاریا ورومانیا) که تحت تسلط روسها اند قبلاً نیز خود راه کشورهای

درصفحه ۷

جهادي ادب

شیطان دی ترهیدلي مسلمان په مخه کړی
الحاد ګوره عدم ته چې افغان په مخه کړی
تکبیر مورته زیری دمرګونو نه شوځه شو؟
ستر روس تهوتهه توته شو اوتوپان په مخه کړی

دحادثو خمار

ساجد

دپردي شاته چی خبری برالاغوندی شوی
ډیری غلګنی قواری راته رسوا غوندی شوی
له باران جګ شو خوځه چل دی بیا ناوی ته ناست یو
دبرم چیغی مویدلی په ژړاغوندی شوی
دحادثو خمارایستلی یو له خوده ځینی
که مو ککری له تهکرسره اشنا غوندی شوی

× × ×

زموږ دوینو ډیوی بلی دافق پر لمن
په شومه دم چی تیاری لاری څه رڼا غوندی شوی
چی دی پناه وړله له یوه غلیم نه بل ته اشنا
ښه شوی په نیمه لارکی پاتی بی امسا غوندی شوی

× × ×

څومره ناپوه وو چی په تابه نازیدو رقیبه !
راسره مل شوی ، بیا په څنګ شوی نااشنا غوندی شوی
دقدرت کار دی موږ دتوری وار ته ښه دریږو
خوپه تدبیر کی مو ککرې څه خوسا غوندی شوی
دنفاق اوردی سوځوی می خودوایی نشی
ټول تدبیرونه تهولی چاری بی معنی غوندی شوی
ترڅو به موږ وو ، چپاوونه ، بری ، ماتی به وی ؟!
تکرار تکرار دغه کیسی راته معما غوندی شوی

ننګیالي او خاطرې یې

په ځیره کی یی دعاجزی ساده ګی او خلوص عجیب امتزاج دی ، ارامه طبعه یی ددی شاهدی وایی چی میږی به یی نه وی ازار کړی ، سپین ساده کلیوال دی له ننیو سیاستونو او منافقتونو نه ناخبره ، له کږو لارو او کږو چارو سره نا اشنا ،خو چی پر هیواد دتکبیر چیغه پورته شوه دجهاد نغاری وغږیدی ، دشهادت قافلی جوړی شوی اوپر دین دننګ مورچلي ونیول شول ، بیا ددغه ساده سیده بنیادم دننه پټ توپانونه ، هم رابراَلا شول ، دهمدغه ساده انسان په زړه کی هغه مستی ځپی هم ، په غورځنګ شوی چی بالاخره یی دننګ او شرف لاره خپله کړه ، ددین او هیواد ددښمنانو په مقابل کې یی دجهاد مورچل ته مخه کړه ، وجنګیده ، په یوازی ځان داوسپنواو باروتو سره دغری ووهلی له پولادی پیلانو «ټانکونو » اوپولادی مرغانو «طیارو » سره دغلیم دګولیو ږلیو ته یی خپل تټر سپر کړ ، ویی وژل ، ویی ځپل ویی شړل اودحق په دغه ویاړلی معرکه کی یی خپله پښه هم قربان کړه غازی هم شو ، شهید هم شو ، اواوس دفتحی او سوبی تاج پر سر ژوندی هم دی ، څوك دی ؟

ویی پیژنی :

خال الدین دنظر الدین زوی دخوست دځنی خیلو اوسیدونکی اودځنی خیلو دجبهی توریالی مجاهد چی پنځه میاشتی وړاندی دخوست له فتحی نه مخکی دیوه تاوده جنګ په میدان کې دماین په واسطه ټپی اویوه پښه یی غوځه شوه .

دنور څلي

لیکنه او ټولونه:سید عبدالمنان

درسول الله (ص) له وفات څخه وروسته چې کله حضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلکو لخوا دخلافت لپاره وټاکل شو ، پخپله لومړۍ خطبه کې یې داسې وویل :

اې خلکو زه ستاسو په خوښه ستاسو دچارو متولي شوم ، زه ستاسې څخه بهترنه بلکې ستاسې په څیر یو شخص یم که دحق پیرووم مرسته او ملګرتیا مې وکړۍ اوکه په باطله لار روان شوم سمې لارې ته مې برار کړۍ زما اطاعت تر هغې وخته پورې کوۍ ترڅو چې زه دخدای پاك (ج) په لاره سم یم هرکله مې چې دالله تعالیٰ (ج) له امره سرغړونه وکړه زما اطاعت په تاسې لازم نه دې .

***

کله چې حضرت عمر (رض) ددوهم خلیفه په حیث انتخاَ شو پخپله خطبه کې یې خلکو ته داسې وویل :

که زه موبې لارې اوکوږ ولیدم سمې لارې ته به مې برابر کړۍ ؟ پدغه وخت کې یو تن له مسلمانانو څخه راپاڅیدخپله توره یې له تیکي څخه راوویسته خلیفه ته یې وویل : که ته له سمې لارې څخه منحرف شوې پدې توره به دې سموو.

پدې خبره حضرت عمر (رض) ډیر خوشحاله شو اودخدای پاك شکر یې اداکړ چې په مسلمانانو کې اوس هم داسې کسان شته چې خلیفه په توره سمې لارې ته برابروي ، اونه یې پرېږدي چې دحق او عدالت څخه انحراف وکړي .

***

همدغه خلیفه حضرت عمر (رض) چې له هیبت اورُعب څخه به یې ظالمان ، منافقین اوسرکشان دپاڼې په شان رپیدل په ځان یې هیڅکله هم اعتراض اوانتقاد بد نه دې منلی هرچاته یې اجازه ورکړې چې خپل حق په ډاګه وغواړي ، نه داچې دخپل حق څخه په بې زړه توب سره تیر شي.

یوه ورځ حضرت عمر (رض) دغنمیت مالونه ویشل دغنمیت په مالونو کې یو ډول څادرونه وُچې هر چاته یو یو څادر ورپه برخه شو په همدغه جمله کې حضرت عمر اودده زوې عبدالله ته هم یویو څادر ورسید ، څنګه چې عمر صیب دقداوقامت له وجې لوړ وُ او یو څادر یې دلباس لپاره نه بسیده زوې یې خپل څادر هم ده ته ورکړ چې لباس یې ځنې پوره شي .

بله ورځ خلیفه دغه لباس اغوستې وُ اودوعظ لپاره دمنبر سرته وخوت خلکو ته یې وویل : اې خلکو واورۍ او اطاعت وکړۍ پدغه وخت کې سلمان فارسي (رض) پاڅید او په لوړ اواز یې وویل : نه ستا اورو اونه دې اطاعت کوو . حضرت عمر (رض) ورته وویل ولی ؟ سلمان فارسي (رض) ورته سمدستي په ډیر جراْت سره وویل : دالباس دې له کومه کړیو څادر خو ستا نه بسیده معلومه شوه چې له نورو څخه دې زیاته برخه اخستې ده اوبې عدالتي دې کړیده .

حضرت عمر (رض) په روڼ تندي خپل زوی عبدالله ته وویل بچیه ددی خبرې ځواب ته ورکړه عبدالله وویل : مامې پلار ته خپله برخه ټوټه هم ورکړیده ځکه یې لباس پوره شوی دې .

له دغې ځواب اوریدو وروسته ورته سلمان فارسي (رض) وویل: وایه اوس ستا خبرې اورو اواطاعت دې کوو.

تکل

څوك يې اوري كه نه ؟!!

محمد زبیر شفیقی

ماویل زه به یی هلته وینم ، ورځم به اوبیا به له کیلو ډکی پټکی پری کوم ماویل داځل به بیا هم زما تر احسان لاندی وی ، احسان الله به می تر احسان لاندی هم وی او راته ملامت هم، زه به یی وینم اوبیا به پری په غوسه کیږم ، وعدی به یی ورپه یادوم خو زما دخیال مانی ناڅاپه داسی راچپه‌شوی لکه دبنګله دیش په توپانونو کی ساحلی کلی ...

زما دخیال جونګړی لوټه لوټه شوی احسان الله ته می راغلی غوسه سړه سړه شوه ، مادهغه په باب داسی تصور نه وکړی لکه نن می چی اوریدل .

ماویل احسان الله به وی ، شلکا به یی وی او پر غلیم به یی غړمبوی .

ماویل یوه خړه پړه مورچه به وی دنورو ځوانانو تر منځ به یو خط اوبریت زلمی ناست وی غنم رنګی پوټکی ځلاندی سترګی اوببری ځنی ، په خوله به یی دایمی موسکا غوړیدلی وی زه به ورځم ، هغه به می مخی ته راووزی ... اوبیا به دخپلو حماسو کیسی راته کوی ... ماویل داحرارو په قافله کی به ګرځم – هلته چی ایمان تازه کیږی ، هلته چی غیرتونه راپاریږی ، هلته چی ځوانی رښتیا هم دخدای (ج) تر ټولو سترنعمت وی نه دذلت اومعصیت نښه .

اوزه به په دی قافله کی له یونس ، نصیح الله ، رحمت الله ، حمید الله ، امین ، عبدالجمیل ... اواحسان الله سره ګورم ماویل خړی خړی پرښی به وی شخه او تازه هوابه وی او وسله وال زلمیان چی په جذباتو توپان راولی او په دنیا یی هوسونه خزان زما دخیالونو پرده ناڅاپه ټوله شوله او چی لیدل می زه دیوی لوی اوسپنیزی دروازی مخی ته ولاړیم .

دشمال کومه نری څپه دننی ماخول وږمی راچلوی ، او زما په څیر غافلانو ته ټکان ورکوی زما مخی ته همغه غنم رنګه ځیره ولاړه ده ، رنګی زیړه شوی را تهوکیدلی بریتونه اوببری توری ځنی... خوشیبه پس دیوه ټپی سرته دریږم ، په سپینو ټوټو کی پیچل شوی پرمخ او تندی یی پټی لګیدلی ښی لاس اوټټر یی هم په سپین ململ کی پوښل شوی. نور نه هغه توری ځنی شته اونه هغه دهمت له ځلا ډکی سترګی وینم یوازی هغه شونډی چی دایمی موسکا به پری غوړیدلی وه اوس هم وینم خو توری ټناکی اودباروتو په اور لولپه چی غمونکی خاموشی پری غوړیدلی ده ... ټپی په خبرو راځی ، همدی دی ، احسان الله خو دنیا یی پر سترګو تیاره ده ، ژوندی شهید دی ، مرګونی خاموشی ده ، خولی چوپی دی ، یوازی داحساساتوژبی په خبرو راغلی دی ځوانی تالا شوی ، دشباب پر بڼ دنامرادی خزان راالوتی اوپه دغه غمجنه خاموشی کی دهغه په سوځیدلو شونډو سل پوښتنی دی چی اوري او رااوري .

ایا بیا به هم دغه ښایسته نړی ولیدلی شم ؟!

ایا زما قربانی اوزما سوځیدلی ځوانی دچا په یادده ؟!

کله چی می دهیواد برخلیك ټاکل کیږی ، کله چی دهیواد دمستقبل په باب پریکړه

په ۵ مخ کی

زه ولی مسلمان شوم ؟

یوکال وروسته می بیا داسلام مطالعه پیل کړه ، داځل ما دلندن له یوه اسلامی مرکز نه کتابونه راوغوښتل ، له هغه ځایه ماته دمسلمانو لیکوالو اثار راواستول شول ، هغو کتابونو دغربی علماو راز راته څرګند کړ ، عیسویانو چی داسلام په مبارك دین دبدګومانیو او دروغو کوم جال غوړولی ؤ پر هغی ډیر حیران او خفه شوم داسلام له اصلی روایاتو اوبنیادونو نه په ټکی بره ګی اودروغو غلط مفاهیم راایستل ددوی تر ټولو ستره مشغولتیا ده ، ماته دهغو کتابونو له لوستو څخه داهم معلومه شوه ، چی اروپا ولی داسلام څخه لری پاتی ده ، زه په دی هم وپوهیدم ، چی اسلام یو ځل بیاراژوندی شوی دی ، داسی تحریکونه پیل شوی دی چی داسلام ژوند جوړوونکی څپی به ټولی نړی ته خوری کړی ، دابه ثابته کړی چی یوازی اسلام دی چی په دی ننی تخنیکی او مادی عصرکی بشر ته روحاً ارامی اونیکمرغی وربخښلای شی ، لنډه داچی مادخپلو پوښتنو ځوابونه و موندل نه یوازی دابلکی مادزړه سکون وموند اوزه مسلمان شوم زه داوایم چی یوازی اسلام دی چی په عقیده او عمل کی یوازینی ریښتنی دین دی ، اوبی شکه داهماغه لاره ده ،چی موږ به خپل لوی خدای (ج) خپل هست کوونکی رب (ج) ته رسوی .

مور په افغانستان کې څه وليدل؟

دنيول شوو روسي عسكرو خاطري،

دعوض الدين «صديقي» ژباړه: — په تيرپسي :

په دی ليك
کی يی روسانو داستعماری
څيری دبرملا کولو کوښښ
کړی ، دايان په روسی ژبه
ليکل شوی ليك اصل اوژباړه
تاسو ته وړاندی کوو:
«دسره پوځ ديوه پخوانی
صاحب منصب په حيث زما
پيغام روسی صاحب
منصبانو او پوځيانو ته دادی
چی تاسو دخپلو هغو اسلافو
پر خلاف يی چاچی
دفاشيزم څخه نړی ته نجات
ورکړی تاسو خپله
شاوخواوګوری تاسو
دافغانستان خلکو ته څه
راوړل؟ که تاسو داپوښتنه له
کوم بزګر ياکارګر څخه وکړی
يقيناً چی تاسو ته به ووايئ
چی تاسو هغوی ته مرګ ،
تباهی اواوښکی په سوغات
کی راوړی تاسو ماشومانو
اوښځو ته اسويلی اوغمونه
په ارمغان راوړل چی
دبمباريو له امله په کورونو
کی ساه ورکړی ، هغه افغان
مجاهدين چی تاسو دزياتی
کرکی ورته اشرار!! وايی
دهيواد په اتيا فيصده سيمی
قبضه لری له دی داحقيقت
روښانه کيږی چی هغوی
دټولو هيوادوالو ملاتړ تر
شالری دايو حقيقت دی چی
خلك تل له هغوی سره مرسته
کوی دهغوی په زړونو کی
دوی ځای لری.

روښانه ده چی خلك
دکريملين ګوډاګی نجيب نه
منی اوکه هغوی تباه هم شی
،دبهر څخه تپل شوی حکومت
به ونه منی .
دافغانستان خلك دامنيت
اوپخلاينی په جلا جلا الفاظو
يقين نلری بلکی هغوی امنيت
په عملی بڼه ليدل غواړی چی
يواځی دروسی پوځ په بيرته
تګ سره ممکن دی داخبره په
فکر کی ولری چی افغانستان
يو اسلامی هيواد دی
دااروپايی هيوادمه بولی ،
ددی ازادی غوښتونکی
هيواد فرهنګ اوکلتور داروپا
سره توپير لری ، روسانو
دخپل راتګ څخه رانيولی په
دی ټووکالونو کی ددی هيواد
دفرهنګ اوعقيدی دبدلولو
منظمی هلی ځلی وکړی
خوپکی بريالی نشول ، تاسو
لږ دخپل تاريخ په باب غور
وکړی زموږ ميندو اوپلرونه
دفاشيستی المانيانو مقابله
په څومره شدت وکړه بيخی په
همدی ډول افغانان په خپل
هيوادکی زموږد پوځ مقابله
کوی.
دروسيی تلويزيون اورادیو
تل دفلسطينی مهاجرينو
خبری کوی اوپه تلويزيون کی
دهغوی فلمونه ښيی خودوی
په ايران اوپاکستان کی پراته
پنځوس لکه افغانی مهاجرين
له سترګو غورځولی هغوی
کورونه نلری دهغوی زامن په
دښتو اوغرونو په سړو او
ګرميو کی چغی وهی اوګرځی
خوددی سره سره په داسی
له ستونزو ډك حالت کی
ژوند کوی په دی خاطر چی
دوی خو دلته دهليکوپټرو
غږونه اوټوپونو درزانه اوری ،
دمرګ اوتباهی څخه خوبچ
دی اياتاسو پوهيږی چی
دمهاجرينو روغتونونه
دافغانی ماشومانو ، ښځواو
سپين ږيرو څخه ډك دی .
ايا تاسو دګوډو او
معيوبوخلکو څخه خبر ياستی
، چی پښی اولاسونه يی
دمينونو له وجی غوځ شوی
که تاسو هغه روغتونونه
وګوری چی ښځی دخپلو
زړونو دټوټو تپونه ګوری
اوسلګی وهی يا دهغوی
دجسدونو په ليدلو سره چغی
وهی تاسو ته به ددی ظلم
اوبی انصافی پته ولګيږی
،افغانانو دظلم اوناانصافی
پر ضد وسله راپورته کړی ،
خو تاسو فکر وکړی اخر ولی
دهغوی په وينو خپل لاسونه
سره کوی ؟ اخر تاسو کوم
لوړ هدف لری ؟
تاسو هريوکور اومحبوب
لری که تاسو په افغانستان
کی ووژل شی دخپلو کورونو
به زرګونه کيلو متره لری يی
تاسو دخپلو محبوبو کورنيو
په باب فکر وکړی ؟
تاسو يوی داسی مور ته
درسيدلی تاوان څه ځواب
ورکوی چی ځوان زوی يی په
افغانستان کی له دی نړی
سترګی پټی کړی ؟ تاسو
خپلو دوستانو ته څه وايی
چی په افغانستان کی مو څه
وکړل ؟ تاسو به داور ته وايی
چی پر بی وزلو خلکو مو ظلم
کړی ، دهغوی کلی اوکورونه
مو تباه کړی اودهغوی زامن
او ښځی مو ژوندی ښخی
کړی .
اخر به روسی ميندی تر
کومه داوښکو پر ځای وينی
څڅوی؟
تاسو ددی پوښتنوپه باب
ښه اطمينان سره غور وکړی
که تاسو نور هيڅ نشی
کولی نو داخو وکړی چی
روسی پوځ پريږدی ،
اومجاهدينو سره يو ځای
شی ، هغوی ستاسو
دسلامتيا ضمانت درکوی .
مهربانی وکړی دبی وزلو
خلکو له وينو تويولو لاس
واخلی .
«پای»

دسعادت په لور

زه ولی مسلمان شوم؟

ابوهارون

ايچ - ايف - فيلوز «انګليسی »

مادژوندانه زياته برخه دبرتانيی په بحری قوه کی تيره کړيده ، په همدی لړکی ما په ۱۹۱٤ م او ۱۹۳۸ م کال دواړونړيوالو جګړوکی هم برخه اخيستی ده سمندرداسی ځای دی چی دشلمی پيړی دټول تخنيکی او فنی پرمختګ سره سره دفطرت او طبيعت اصلی څيره ژوندی پاتی ده ، هيبتناك بحری توپانونه او قهرجنی څپی يی ژوندی مثالونه دی چی دجګړی په دوران کی ناڅاپی خطری پردی ورعلاوه شی .
کله به چی دويری او خطر داسی کوم حالت راغی بی اختياره به می حس کړه چی په زړه به می يوازی ديوی هستی يادڅ ، زما دروح له تل نه به يوازی دواحد لاشريك په لور فرياد اوچت شو ، خو څرنګه چی زه په يوه عيسوی مذهبه کورنی کی زيږيدلی يم نو ځکه ماته ويل شوی وو چی دنړی نظام په تثليث « دريو خدايانو عقيده » ولاړدی .
يعنی پلار - زوی او روح القدس «مقدس روح » خو دغه خندنی عقيده کله هم زما په زړه کی کلکه نه شوه ، کله چی لږ لوی شوم او زيات ځير شوم نو ماته دعيسوی مذهب نوری کمی او خامی هم څرګندی شوی په ځانګړی ډول دکفاری په فلسفه زه بلکل ونه رسيدم .
مازياتره فکر کاوه چی کله موږ ته دګناه سزا سمدستی په دی دنيا راکول کيږی نو داکله امکان لری چی موږ په آخرت کی دګنا هونو له سزانه يوازی په دی نجات ومومو چی حضرت عيسی (ع) دهغی کفاره ورکړی ده . له بلی خبری نه چی زما ډيره کرکه کيدله هغه داوه چی انسان ازلی ګناهګارګڼی حال داچی داخبره تمامی تجربی بلکل برعکس ده ، موږ وينو ډيرخلك دنورو خدمت کوی ، او نور وسره مرسته کوی او نيك نيك کارونه کوی ، زيات ماشومان چی دپلارمور سر بيره ښه ښوونکی ولری دټولنی يو نيك غړی تری جوړيږی بياخو دانسان ازلی ګناهګار ګڼل دانسانيت له توهين او سپکاوی پرته بل څه نه دی دغوشکونو او پوښتنو زماذهن تسخير کړی ؤ، نه پوهيدم چی څه وکړم عيسويت دتضادونو څخه ډك ؤ دمثال په توګه حضرت عيسی (ع) حکم کړی دی چی دموسی (ع)په هغو لسواحکامو پابندی وساتی چی په طورغره کی خدای (ج) پری نازل کړی وو ، دهغو لسو احکامو لومړی حکم داؤ چی :
«زه دتاخښتن يم ، دتاخدای (ج) ته له مانه پرته بل ته دعبادت سرمه ښکته کوه »
خو عيسويان ددريو خدايانو عبادت کوی .
دوهم حکم داؤچی :
«ته به ځان ته کوم بوت نه تراشی نه به کوم بوت ته سجده کوی »
خودلته عيسويانو دمريم «رض» او عيسی (ع) بوتان جوړ کړی او برالاعبادت يی کوی .
مانوره پلټنه هم وکړه نو وپوهيدم چی « مارتن لوتهر» درومن کاتوليك کليسا پرخلاف بغاوت وکړ او زيات کفرانه عادتونه او رواجونه يی له منځه يوړل خو بياهم دپروتستانو اوکاتوليکانو دواړو ډلی دکفر ياتو په سمندرکی غوټی خوری ، په دواړوکی څه دپاملرنی وړ توپيرنشته .
دتاريخ له مطالعی نه وروسته دی خبری هم ځوروله چی آخر دعيسی (ع) دژوند حالات ولی پټ غوندی دی او بشپړ رڼا نه ورباندی اچوی ؟ زه دمذهب په باب په همدغه ذهنی کشمکش کی وم چی له ۱۹۱۹ م څخه تر ۱۹۲۳ م پوری زه په داسی بيړيو کی په دنده بوخت وم چی دترکيی په اوبو کی ګرځيدی - دلته می دلومړی ځل لپاره له مسلمانانو سره ليدنه کتنه وشوه او داسلام دمطالعی مينه راسره ملګری شوه په ځانګړی توګه داسلام بنيادی عقيدی کليمی طيبی «له الله پرته بل معبود نشته او محمد (ص) دهغه (ج) استازی دی » مفهوم ځانته ورکش کړم .
ماداسلام په باب دکتابونو مطالعه پيل کړه خوددغوکتابونو زيات شمير داسلام دسختو دښمنانو له خوا ليکل شوی وو او داسلام پرخلاف زيا ت نفرت پکی اظهارشوی ؤ . همدارنګه له ترکانو نه تيری دری پيړی اروپائيانو سخت نفرت درلود ، همدارنګه دترکانو کړو وړو هم زما په زړه کی داسلام جذبه ډيره سره کړه ماداسلام مطالعه پرينښوده اوله خدای (ج) سره می تعلق پاتی شو خو ديوی نامعلومی عقيدی په چوکاټ کی .

په ٤ مخ کي

دکتاب معرفي

په افغانستان کی دکی جی بی فعاليتونه

په افغانستان کی دکی جی بی فعاليتونه.
دکتاب نوم : په افغانستان کی دکی جی بی فعاليتونه
ليکوال : عبدالوکيل
خپر ونکی : پخپله ليکوال
دچاپ نيټه : ۱۳۷۰
دچاپ شمير : (۱۰۰۰)
دمخونو شمير : ۱۰۰

په افغانستان کی دکی جی بی» فعاليتونه هغه ارزښتناك اثر دی چی په دی وروستيو کی په ډيره ښه قطعه اوښکلی صحافت چاپ شوی دی. کتاب ترکتاب پيژندنی او فهرست وروسته دليکوال پخپله سريزه، چی د«الف » او «ب »مخونه يی ښکلی کړيدی پيل کيږی او بيا په ترتيب سره په لومړی مخ کی د «کی،جی،بی » مفهوم تر سرليك لاندی چی ليکوال پکی دروس دجاسوسی دستګاه ډول - ډول فعاليتونو اوجناياتو په تاريخ کی ددغی جهنمی دستګاه دبيلابيلو نومونو دمفهوم او محتوی په هکله ژوره څيړنه کړی، او لوستونکوته يی په زړه پوری معلومات وړاندی کړی دی او بيا په ترتيب سره په افغانستان کی داميرامان الله خان دقدرت په دوره کی دکی،جی،بی نفوذ،دمحمد ظاهر دټولواکی په دوره کې دکی،جی،بی فعاليت ، دمحمد داؤد دخپل سری رژيم په وخت کی دکی جی بی کړه وړه، دثور له کودتا څخه وروسته اودروسانو له نظامی مداخلی څخه ترنن پوری تر بيلابيلو سرليکونو لاندی ليکوال په افغانستان کی ددغی جاسوسی دستګاه او دهغی ديوی څانګی په توګه د اګسا»، کام»،خاد»او واد»په ډول ډول پټو او ښکاره فعاليتونو ، سرته رسولو جناياتو او ددغی جهنمی اداری پرتشکيلاتو مفصل او مدلل بحثونه کړی اولوستونکوته يی داسی نوی معلومات وړاندی کړی چی تر اوسه ډير کم او حتیٰ په نشت برابر خپاره شوی دی.
موږ پداسی حال کی چی دااثر پخپله فرهنګی پانګه يوارزښتناکه او ګټوره اضافه ګڼو ټولو مجاهدومهاجرو او انصارو ورونو ته ددی ارزښتناك اثر مطالعه لازمی ګڼو ليکوال ته يی دچاپ او خپريدو له امله مبارکی وايو او له لوی خدای (ج) څخه ورته لابرياليتوبونه غواړو. « اداره »

څوك يې اوري . . .

کيږی ، اوکله چی زما دوطن دخلکو په باب خبری کيږی ، زه زما سوځيدلی ځوانی اوپی نوره سترګی آ دچاپه ياد دی که نه ؟!زما مورچل زما کارنامی او زما غورځی پرځی ... په دی سوځيدلو شونډو ، په دی تورو تورو پرسيدلو شونډو اوپه دی مرګونی خاموشی کی همدغه پوښتنی نقش دی ، اودهمدغو پوښتنو زور دی خو نه پوهيږم چی څوك يی اوری که نه ؟!!

په ګردیز کی مکار دښمن دماتی اوګریز په...

محترم قوماندان خالد فاروقی ، محترم مولوی ارسلا رحمانی ، محترم اختر محمد تولواک ، محترم حاجی امان الله خان ، اودمحاذملی اسلامی قوماندانانوبرخه لرله ، موږ له موقع څخه استفاده وکړه او له دوی سره مودجګړی په جریان خبری وکړی محترم خالدفاروقی دکابل ګردیز دلاری دبندیدو په رابطه زموږ دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل: دتیری په برخه کی

مجاهدین دلاری دواړو خواوو ته موجود دی ، اودښمن ته پوره مزاحمت کوی ، وخت په وخت چریکی عملیات اجرا کوی اودښمن ته ډیر زیات تلفات رسیږی .

بله خبره داده چی کیدی شی ، په لوګر کی هم مجاهدین دلاری دبندیدو اقدام وکړی .

مهمه خبره داده چی تراوسه مجاهدینو کوم فتوحات کړی دایـــــــی دلاری دخلاصیدوباوجود کړی ځکه خوموږ ویلی شو چی دلاری خلاص والی دګردیز په فتحه نومره اثر نشی غورځولی ، مجاهدین قدم په قدم مخ په وړاندی ځی او امید دی ، چی لاره هم بنده شی .

محترم خالد فاروقی په سیمه کی دجهادی قوتونوترمنځ دتفاهم اوګډی همکاری په رابطه وویل : موږمجاهدینو په تفاهم ترډیره مطمین یو ځکه تول فکری خلك راټول شوی ددوی نصب العین یو دی او هغه په هیواد کی داسلامی نظام ټینګیدل دی .

همدارنګه دجګړی دتاکتیکونو په هکله هم سلا مشوری کیږی او مساعی مشترك په کار اچول کیږی . څرنګه چی تاکتیکی پلان او نصب العین مشترك دی پدی اړه چندان مشکلات نه لیدل کیږی .

خالد فاروقی دجګړی دروان جریان په هکله دخپل داړ څرګندونه وکړه ویی ویل : زه خپله دجګړی له جریان څخه ډاډه یم دافغانستان په نوروبرخو کی هم جنګ روان دی ، پدی اساس دښمن نشی کولی خپل قوتونه هر ځای ته ورسوی ، ددښمن معنویات ډیر کمزوری شوی داپه ټول هیواد کی دمجاهدینو مشترك ګوزار دی ،او امید دی دښمن له نابودی سره مخامخ شی .

محترم مولوی ارسلا رحمانی دغرب په استقامت دجګړی دجریان په هکله زموږ دپوښتنی په ځواب کی وویل : زموږ مجاهدین دغرب په استقامت ددرنګ له خولی تر تیری کنډو او التمور پوری موجود دی ، تراوسه دمجاهدینو له خوا په مشترکه توګه څو تعرضونه شوی چی کامیاب شوی دی ، لوی موفقیت دادی چی ددښمن دمحاصری کړۍ تنګه شوی ، تردی چی په ډیرو برخو کی مجاهدین ددهشکی ، هشتاد نو او راکټ په زریعه عملیات کولی شی ، همدارنګه ددښمن دفاع هم ډیره کمزوری شوی.

محترم رحمانی دمجاهدینو دګډی همکاری اووحدت په رابطه وویل : تراوسه الحمد لله ګډه همکاری موجوده ده، اتحاد نظرموجوددی موږ نه یواځی له وضعی رضایت لرو بلکی کوشش کووچی دمجاهدینو تر منځ بنیان مرصوص رامنځ ته شی .

محترم رحمانی زموږ ددغی پوښتنی په ځواب کی چی دکابل ګردیز لار تراوسه ولی نده بنده شوی وویل : مجاهدین وخت په وخت په لاره عملیات اجرا کوی ، دلاری حالات موږ ته ښه معلومیږی ، دښمن لار تړله له

پوستو ډکه کړی که په یوه پوسته حمله کیږی لس نوری یی دفاع کوی خولدی ټولو سره لار ددښمن دقطارونو پرمخ تقریباً تړلی ده ، کله ناکله ددښمن یو موټر یا ټانك په غلا اوپټه حرکت کوی ، تیره ورځ هم په لار عملیات وشول ، ددښمن یو ټانك له منځه ولاړ ، او ګڼ پوځیان یی ووژل شول ، زموږ پلان دادی چی په لار شبخون اجراکړو او ددښمن دپوستو تر منځ دنقل او حرکت سلسله هم ختمه شی ، چون منطقه ډیره لوڅه او دستراوخفالپاره امکانات نشته ځکه خو یوڅه مشکلات لیدل کیږی خو موږ کوشش کوو چی لار په بشپړه توګه بنده شی .

موږ له محترم رحمانی صاحب څخه پوښتنه وکړه چی په ځینو استقامتونو کی مجاهدینو ډیرزیات پرمختګ کړی دمثال په ډول دجنوب له استقامته مجاهدین ډیر مخکی تللی ، حتی چی ښار ته هم ننوتلی شی خو له نورو استقامتونو څخه دومره پرمختګ ندی شوی ، هغوی په ځواب کی وویل :

حقیقیت دادی چی په بعضو استقامتونو کی وسایل اودجنګ زمینه ښه برابره ده ، خو په بعضو کی موقعیت نه ایجابوی ، موږ پدی معترف یو چی په جنوبی استقامت کی مجاهدینو ډیر پرمختګ کړی اوددښمن دفاعی کمربند یی مات کړ پدی که څه هم زموږ کارونه په همفکری شروع شوی ، موږ اوس هم پدی کار کوو، او ارتباط هم نیول شوی ، اُمید دی وضع انکشاف ومومی اوپه ټولو استقامتونو کی ګډ پرمختګ وشی .

دمیزان په ۲۳ مه نیټه موله قوماندان اختر محمد تولواک سره دمرکی وخت پیدا کړ ، موږ له محترم تولواک څخه دجګړی دروانو حالاتو په رابطه پوښتنه وکړه هغوی په ځواب کی وویل :

زما په نظر په موجوده جنګ کی یو مشکل عدم توازن دی ، یو طرف ډیر پرمختګ کوی بل طرف کم ، په ټولو خواوو کی مساوی فعالیت اوپیشرفت ندی شوکه تراوسه په معین وخت کی معین ، پیشرفت

منځ ته ندی راغلی ، که څه هم شوراګانی شته ، مشوری روانی دی او دجګړی په نتایجو هم خبری کیږی ، همدارنګه شرایط اراضی اودقواوو توازن هم نشته ، زموږ پرونی ناسته هم دهمدغه مشکل دحل لپاره وه ، چی خپل قوتونه په هماغه نقاطو کی ځای پر ځای کړو چی د مجاهدینو پرمختګ ممکن وګرځولی شی ، او په ټولو برخو کی مساوی پرمختګ وشی .

قوماندان اختر محمد تولواک دجګړی درهبری په هکله وویل : دګردیز په جنګ کی دسیمی محلی شوراګانی هم رول لری ، خو عمده رول دقوماندانانو دسرتاسری شورا په غاړه دی چی مشریی محترم حقانی صاحب دی اومحترم

ارسلا رحمانی اونورو قوماندانانو چی په جګړه کی قاطع رول لری ، ددغه شورا غړی دی .دلاری بندولو په هکله قوماندان تولواك وویل : دکابل ګردیز لار که څه هم تراوسه په مکمل ډول نده تړل شوی خواخلال موجود دی اوس داهڅه کیږی چی یو داسی سیستم فعال شی ، چی ګردیز ته ددښمن لاره بنده شی ، خو زما په خیال پدی رابطه دلوګر مجاهدین

ډیر مهم رول لوبولی شی ځکه دلاری دبندیدو اصلی منطقه لوګر دی ، موږ دخروار اوخرخ له مجاهدینو سره پدی هکله ارتباط نیولی ، دپکتیا او پکتیکا مجاهدین یوځای ګردیز ته ددښمن دقواوو په راتګ کی اخلال پیداکولی شی ، نور دلاری مکمل بندول دلوګر دمجاهدینوترهمکاری اواقدام پوری اړه لری اوس دتیری په کنډو کی دغربی شورا مجاهدین موجود دی

،اونورمجاهدین هم ملته شته هیله ده دمجاهدینو راتلونکی ګډ پلان پدی هکله غوڅه نتیجه ورکړی .

قوماندان اختر محمدتولواک دمجاهدینو دفتحی په رابطه وویل : فتحه اونصرت دالله تعالی له طرفه دی ، څومره چی موږ ظاهری عواملو ته ګورو ددښمن مورال ډیر ضعیفه اوکمزوری دی ، ددښمن متقابله حملی له ناکامی سره مخامخ کیږی ، دښمن له تشتت اوپراګندګی سره مخامخ دی ، مجاهدینو کافی پیشرفت کړی ،او داټول موږ ته داډ راکوی چی ان شاالله ګردیز به فتحه شی

***

دمیزان په ۲٤ نیټه دحضرت عمر فاروق غونډ مجاهدینو دحقانی صاحب دازادو جبهاتو په ملتیا دسروړی دسرپر پوستو عملیات پیل کړل ښایی ووایو چی دسروړی دبیخ پوستی مخکی مجاهدینو فتحه کړی وی ، دغه بریالی عملیات دمازدیګر په ۵ بجو پیل شول اودماښام د ۷ بجو په شاوخواکی دسروړی پوستی اودسر

راکټ پر اوږه مجاهد چې ددښمن مورچې یې په نخښه کړې

قرارګاه فتحه شوه ، ۲ میله شلکا ، ۷٦ صحرایی توپونه ، یو میل زیګویك ، دوه ډی سی توپونه، اودمهماتو ډیپو مجاهدینو لاس ته ورغلل .

دفتحی په سبا دښمن دسروړی غونډی تر سختو هوایی او ځمکنیو حملو لاندی ونیوله اوپه پرله پسی توګه یی دغه نقطه دسکډ توغندیو ، توپچی ، هوایی بمبارد ، اونورو درنو وسلو تر برید لاندی ونیوله ، لدی سره یی دزرمت په شاوخوا کی هم بمباری پیل کړه، دسروړی غونډی توله ورځ ددښمن تر هوایی او ځمکنیو بریدونو لاندی وه، اوسړی فکر کاوه چی دغه غونډی به اوس هیڅ په ځای نه وی پاتی شوی داسی چی په یوه وخت سکډ توغندی ، توپچی،الوتکو ، دبی ام ٤١ اونورو درنو وسلویه غونډی ګوله باری او بمباری کوله .

دمیزان په ۲۷ نیټه موږ بیرته دستی کنډو په استقامت حرکت وکړ دنری کوتل په تل کی موسترمجاهد اودګردیز دجګړی عمومی قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی مخی ته راغی چی دزرمت دسنګرونو دلیدنی په نیت روان ؤ ، ددغی ورځی په مازدیګر محترم حقانی صاحب دزرمت په لور تشریف یووړ ، او موږ خپل مرکز ته راوګرځیدو .

دمیزان په ۲۹ نیټه دګردیز والی اودګردیز دولایتی شورا رئیس محمد انور حاصل دجګړی په لومړی خط کی مجاهدینو دبریالیو عملیاتو په جریان کی ووژل شو ، له انور حاصل سره ګڼ شمیر نور لوړ رتبه پوځی افسران هم وژل شوی دی .

دګردیز والی چی له کابل څخه راغلی یوه لوړ رتبه پوځی هیئت ته دجګړی په اړه توضیحات ورکول دمجاهدینو دتوپچی انداخت ددزو له امله نوموړی اوورسره دهیئت ګڼ شمیر نور لوړ رتبه افسران هم وژل شوی دی .

همدارنګه په ګردیز کی دګلم جم ملیشی قوماندان جنرال جلال الدین هم دمجاهدینو دبریالیوعملیاتو په جریان کی وژل شوی دی .

روسی ته دمجاهدینو دهیئت دتګ په اړه دپکتیادجهادی سنګرونو د قوماندانانو ګوه اعلامیه.

دافغانستان دمقدس جهاد سنګرونو یوشمیر نومیالیوقوماندانانو دعقرب په دوهمه نیټه دروانو سیاسی حالاتو په نظر کی نیولو سره دالحاج مولانا جلال الدین حقانی په مشری دپکتیاپولایت کی غونډه وکړه او لاندینۍ پریکړی یی صادری کړی :

۱- ترڅو چی روسانو دافغانستان دملحد اولاس پوڅی رژیم څخه خپل دسیاسی ، نظامی او اقتصادی کومکونو نه لاس نه وی اخیستی او دافغانستان مجاهدین یی دملت واقعی نمایندګانوپه توګه نه وی منلی، دملحد رژیم دنمایندګانو او روسانو سره په هر ځای او هر وخت اودهر چا لخوا مذاکرات په کلکه رددواودجهاد له سترارمان سره یی خیانت بولو .همدارنګه اوسنی هیئت چی مسکو ته ځی دافغانستان دملت نماینده هیئت ندی .

۲- ترڅو په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس چی دملت واقعی نمایندګان دی اسلامی حکومت نه وی قایم شوی جهاد فی سبیل الله ته به ادامه ورکوو ، اواوسنی برحق جهاد ته بی ځایه وینی تویول ویل داسلام دمقدس دین سپکاوی دی .

۳- دافغانستان دټولو جهادی قوتونو څخه په کلکه هیله کیږی ، چی دموجوده سیاسی وضعی په نظر کی نیولو سره دجهاد دنتایجو دتحقق په منظور دیوی انتقالی اسلامی دوری په جوړولو عملی او مخلصانه اقدام وکړی ، که نه دعواقبو شرعی مسوولیت به ددوی په غاړه وی .

والسلام

دکابل ښار نظامی مرکزونه د مجاهدینو تر برید لاندی

کابل ، دمیزان ۳۰ مه :

په پیښور کی دقوماندانانو دشوری سیاسی دفتر دکابل ولایت څخه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو ددرندو وسلو په واسطه دکابل رژیم ددفاع وزارت په دفتر اودخواجه رواش پرهوایی ډګر دمیزان په ۳۰ مه نیټه پراخ بریدونه وکړل چی په نتیجه کی دخواجه رواش په هوایی ډګر کی ولاړه یوه هلیکوپتر الوتکه دلس ګونو نقلیه وسیلو سره ویجاړه اوهم په دارالامان کی دوزارت دفاع یوشمیر عسکری بارکونه اودفترونه داور لمبه شوی دی .

درپوټ مطابق درژیم قواو ته په دی بریدونو کی نور زیات

ځانی زیان هم اوړیدلی دی .

خبر ځای په یو بل رپوټ کی وایی چی مجاهدینو دغه شان دکابل ښار په لویدیزه برخه کی دقرغی په اتمی فرقی اودکابل ښار په لمر ختیزه دپلچرخی په ۱۵ نمبر زرهداره قواو باندی دمیزان په ۲۹ مه نیټه ددرندو بریدونو په واسطه دقرغی دوسلو اومهماتو لوی ډیپواودپلچرخی قواو دروغنیاتو یوه ډیپو داور لمبه کړی ده .

درپوټ مطابق دمجاهدینو ددغو بریدونو له کبله په ډیپو ګانو کی دسخت اور لګیدو سره دوه عرادی محاربوی ماشینونه هم دیو شمیر نظامی عملی سره دمنځه تللی دی .

همدارنګه دمیډیا درپوټ مطابق دکابل رژیم او دنجیب دبرسر اقتدار ی ډلی مخالفینو دمیرویس میدان په یوه لویه نظامی ډیپو کی چی خوراکی مواد پکی ذخیره شوی و دمیزان په ۲۹ مه نیټه دیو بم دچاودنی په اثر الوزولی دی کوم چی ٤ کاله مخکی دشهیدانو دکابل ښار لپاره کوپراتیفی مغازه جوړه کړی وه .

په خبر کی دپیښی دتلفاتو په هکله څه ندی ویل شوی .

دکابل رژیم دګردیز والی د مجاهدینو ددزوله امله ووژل شو

پکتیا ، دجهاد هنداری خبریال :

دپکتیا ولایت دټولو جهادی سنګرونو څخه دجهاد هنداری استول شوی خبریال خبر راکوی چی دمیزان په ۲۹ مه نیټه دمجاهدینو ددرنو وسلو دډزو له امله په ګردیز کی دمزدور رژیم دپکتیا والی انور حاصل دجګړی په اول خط کی یی دخلوګو سنګرونه کتل دمجاهدینو په مرمی ولګید ، اوپه ډیر ژوبل حالت کی کابل ته ولیږدول شو ، چی دوروستیو خبرونو له مخی دکابل په یوه نظامی روغتون کی دخپلو ټپونوله امله مړ شوی دی. خبرزیاتوی چی دمجاهدینو دهمدغو دزو له امله له انور حاصل سره دمزدور رژیم دقواوو یوشمیر افراد وژل شوی اوزیات شمیر یی ټپیان شوی دی بل لوری ته دهغه په راپور کی چی دمیډیا دخبررسولو اداری دجهاد هنداری اداری ته رالستولی ویل شوی چی انور حاصل سربیره پردی چی دکابل رژیم داداری تشکیلاتو له مخی دپکتیا والی ؤ ، دمزدور رژیم دجاسوسی اداری واد غړی هم وو.

میډیا دنوموړی والی دیوه هم صنفی په حواله لیکی چی انور حاصل دکابل پوهنتون دژور نالیزم له پوهنځی څخه فارغ شوی دی او دنجیب له ډیرو نږدی اندیوالانو څخه ووچی دهمدی اړیکو په اساس دنجیب تر قدرت ته رسیدو وروسته دپکتیا دوالی په حیث مقرر شو.

راپور زیاتوی انور حاصل دتیر عیسوی کال ۱۹۹۰ په جریان کی دخاد او کی ، جی ، بی دجاسوسی فعالیتونو په اړه دوه ځلی په مخفی ډول دپاکستان لاهور ښار ته هم راغلی اوبیرته تللی .

دنجیب رژیم له خوا دانور حاصل پر مرګ خپله پراخه خواشینی ښودلی اوپه خپله نجیب او دکابینی ځینو غړیو دده دخښولو په مراسمو کی ګډون وکړ، همدارنګه تر مرګ وروسته نوموړی ته دکابل رژیم له دتورن جنرالی افتخاری رتبه هم ورکړل شوه.

دپاکستان داقتصاد دتخریب لپاره دهند اواسرائیلو ګډ پلان

نوی ډیلی ، دعقرب ٤ مه :

دهند اواسرائیلو تر منځ په صنعتی اونظامی څانګو کی دمرستی اوتعاون امکانات ورځ په ورځ زیاتیږی .

دالمان غږ راډیو دیوه خپور شوی خبر له مخی دهند یوه پخوانی وزیر چی دسفارت چاری یی هم اجرا کړی په پاریس کی داسرائیلو له څو متعصبو مشرانو سره تر لیدنی کتنی وروسته ویلی دی چی هغوی دهند دهغه پلان په هکله مرستی ته چمتو دی ، چی دهغی له مخی به دهند ټول سیندونه دنهرونو په وسیله له یو بل سره تړل کیږی ، چی ددی پلان په عملی کیدو سره به دپاکستان یو زیات شمیر نهرونه له اوبو څخه وچ شی ، اوداکاربه دپاکستان پر اقتصاد خوراسخت اثر وغورځوی .

همدارنګه راډیو ویلی دی چی هند اواسرائیل په خپل منځ کی دنظامی مرستی په هکله هم دیوی معاهدی غوښتونکی دی چی یقیناً دابه هم دپاکستان پر ضد دیهودو اوهنودو ګډ سازش وی.

په نیول شوی کشمیر کی دهند دتیری کلیزه ورځ وغندل شوه

سری نګر ، دعقرب ٦ مه نیټه :

په نیول شوی کشمیر کی داکتوبر۲۷ مه نیټه پر کشمیر باندی دهندی یرغلګرو پوځیانو دتیری دکلیزی په توګه وغندل شوه .

درارسیدلو خبرونو له مخی پدی ورځ دکشمیر مجاهدینو دبیلابیلو سازمانونو له خوا دخلکو څخه دعمومی اعتصاب غوښتنه شوی وه چی دکشمیر اوسیدونکوهم دغه غوښتنه په مکمله توګه ومنله او پدی ورځ ټول دوکانونه سبوڅی ، کار وباری دفترونه ، تړلی وو اوورسره کشمیریانو دخپلی خاوری دآزادی غوښتنو په اړه پراخه مظاهری هم وکړی .

خبرونه وایی چی دغه ډول مظاهری دنیول شوی کشمیر په ټولو ښارونو کی دکشمیریانو له خواپه لاره واچول شوی ، اودهغو په ترڅ کی دهندی وحشی پوځونو تیری په کلکه محکوم شو ، او دزر تر زره وتلوغوښتنه یی وشوه .

دیادونی وړده چی هندی پوځونه څوکاله پخوا داکتوبر په ۲۷ مه نیټه دنیول شوی کشمیر سیمی ته را دننه شوی ؤ.

کوبیدن آخرین میخ . . .

ازاد،دارای حاکمیت ملی وتمامیت ارضی اعلان میکردند ودر ملل متحد نماینده گان داشتند اما درواقعیت بعد از جنگ دوم جهانی (۱۹۱٤-۱۹۱۸) م تاکنون از جمله مستعمرات روسها بشمارمی ایند وروسها دراکثر این کشورها نیروهای نظامی دارند. علاوتاً کشورهای هستند که تحت سلطه روسها می باشند اما قوای نظامی در انها ندارند که دراین ردیف میتوان ویتنام ، لاوس ، کمبودیا و رژیم کابل رانام برد .

پس گفته میتوانیم که بعد از شکست خوردن قوای تجاوزگر روس در افغانستان ،کمونیزم وامپراطوری خون اشام ان به سوی نابودی در حرکت افتید لیکن مجادله وپیکار علیه انهارا باید پایان یافته ندانیم وباطو برچیدن اخرین بقایای انها همه امکانات وتلاش هارا بکاراندازیم تا این غده سرطان از روی کره زمین محوه ونابود گردد.

دمنځنی اسیا اسلامي هیوادونه او...

اساسي هدف یې افغانستان په بخاراو ثمر قند بدلول ؤ . په ۷رثور ۱۳۵۷ هـ ش کال دروسانو روزل شوی ایجنټان (خلقیان اوپرچمیان) دروسانو په ملاتړ دیوې کودتا له لارې پدې بریالي شول چې داوُد خان ووژنی اوواك خاین اوبې دینه لامذهبه تره کی ته وسپاري دتره کي واك ته رسیدل دروسانو هغه کوښښونه او هلې ځلې وې دکوم لپاره یې چې دځان سره اوږد پلان درلود ، روسانو خپلو کوښښونو ته ادامه ورکړه اوغوښتل یې چې دمنځنۍ اسیا په څیرپه افغانستان کې هم دکمونیزم جرړی خوری اوغزوی خو دکمونستانو په مقابل کی دافغانانو برمیال غورځنګونه پیل شول چې لا تراوسه پوری دوام لري .

ترہ کی اودده جنایات:

۱-داقتدار په لومړي سرکې یې ۱۵ زره تنه چې زیات شمیر یې عالمان وُ په شهادت ورسول .

۲- داسلام ضد قوانین یې نافذ کړل

۳-دمبارزه کوونکو مسلمانانو مالونه اوکورونه یې ضبط اودولتی وګرځول .

٤- په راډیواستیشن کې یې دیني پروګرامونه بند کړل .

٥- دتعلیم او تربیی په څانګو کې یې دیني درسونه بند او پرځای یی سوسیالیستي او کمونستي درسونه عام وګرځول ، په بزګرانو مزدورانو او ښځو باندې په خلقي سازمانو کې شاملیدل یوه ضروري خبره وګرځیده .

٦- په ډاګه یې دخدای (ج) څخه انکار وکړ تردې پورې چې یوه کمونست دخلکو په وړاندې لاس پورته کړ اواعلان یې وکړ (نعوذ بالله) که ستاسي خدای (ج) موجود وي زما لاس دې ښکته کړی .

خو روسان او کمونستان څخه خبر وُچې موږ به پداسی ملت واوړو چې دصحابه کرامو له وخته څه راپدیخوا یې ټول ژوند په اسلام کې تیر کړې دې ، نه یې دچا غلامي کړیده اونه یې دچاباداري منلې ده افغانانو په منځنۍاسیا کې دکمونستانو ناتار او دمسلمانانو بدحالت لیدلی ؤ دکمونستانو دناوړه هلو ځلو په مقابل کې دافغانستان دګوټ ګوټ څخه جید او دخدای په مینه مست عالمان چې دظاهر سره یې هم داسلام اودین په سر ډغرې وهلې وې راپاڅیدل' دافغانانو برمیال غورځنګونه پیل اویو طوفان راپورته شو چې دروسانو غوړیدلی دامونه یې تار تار کړل دجهاد تکبیر دسره انقلاب مخه ونیوله تره کې که دجهاد ددغې سپیڅلی اوکفر لړزونکې نعرې (تکبیر) دچوپه ولو اوغلی کولو لپاره څومره نیپال بمونه وغورځول زهرجنې وسلې او ګازونه یې استعمال کړل حتیٰ په هرات کې یې په ډله ایزه توګه شل زره مسلمانان دکلمی په جرم په شهادت ورسول خو دافغانانو جذبه دسړیدو پر ځای لاپسی توپانې شوه افغانانو په لږه موده کې دخپل بې ساري مقاومت اوبې دریغه قربانیو په واسطه درژیم دعسکری قواو روحیه دومره کمزورې اومورال دومره ښکته کړ چې کمونستان به دمسلمانانو دځپنی اونیونی لپاره په ټانکونو او پوځې لاریو کی پټ ګرځیدل روسانو جې دتره کي درژیم دابده ورځ ولیده راپاڅید دتره کي په خوله یې بالخت کیښوده ، اوخپل دوهم بریځې حفیظ الله امین یې دکمونستی دپرمختګ په خاطر داقتدارپه ګدۍ کیناوه .

نوربیا

روسيې ته دمجاهدينو دهيئت ...

اوډپاملرنی وړموضوع وه اوپه دی اړه دراډيو ګانو او خپرونو له لاری دتنظيمونو دمشرانو اونورو مسوولو کسانو مرکی اونظريات هم خپاره شول.

بالاخره دتيری پنجشبی په ورځ چی دپاکستان له صدراعظم ښاغلی نواز شريف سره دافغانستان دقضيې دحل دلارو چارو دپلټنی په اړه تر هغو خبرو اترو وروسته چی په هغو کی په پيښور کی دميشتو جهادی تنظيمونو له جملی څخه دافغانستان دواړو اسلامی حزبونو ، دافغانستان داسلامی جمعيت ، دحرکت انقلاب اسلامی افغانستان ، اودافغانستان دملی اسلامی محاذ دتنظيمونو محترمومشرانواودافغانستان داسلامی اتحاد ، اودملی نجات جبهی پر نمايندګانو برسيره ديو شميرنورو وړو جهادی ډلو نمايندګانو هم ګډون درلود ، داسی څرګندونی وشوی چی دافغانستان داسلامی جمعيت دمشر استاد برهان الدين ربانی ترمشر تابه لاندی دروان کال دعقرب په ۱۲مه نيټه دمجاهدينو يو هيئت چی په هغه کی به په پيښور کی داوو جهادی تنظيمونو له استازيو سربيره په ايران کی دحزب وحدت په ګډون دنهو اتو تنظيمونو استازی برخه ولری ، دافغانستان دقضيې په اړه له روسيې سره دخبرو اترو لپاره مسکو ته اووه ورځنی سفر وکړی.

دموږ دجهادی ځواکونو په دريځ کی دغه يو ناڅاپی بدلون که له يوی خوا زموږ مجاهد ملت چی دلوی خدای (ج) په مرسته اودوسله وال جهاد دادامی له لاري ددين او وطن پر دښمنانو باندی پخپل وروستی بشپړ بری باور لری ، دحيرانتيا سره مخامخ کړ،نو له بلی خوا دجهاد په سنګرونو کی پرتو مجاهدينو ، چی اوس يی دهر اړخيزو عملياتو دپيلامی اوادامی په نتيجه کی دروسانو مزدورانو ته څمکه سره تبی کرځولی ، اودښمن درژيم دقواو پوځی مرکزونه اودولتی تأسيسات دبشپړی فتحی په درشل کي دي ، په دغو شرايطو روسيی ته دهيئت دليږلو په باب دجهادی تنظيمونو له اوسنی پريکړی سره خپل کلك مخالفت څرګند کړی دی، په دی لړ کی دجهادی تنظيمونو ددغو څرګندونو په سبا دعقرب دمياشتی په دويمه نيټه يو زيات شمير نوميالیو جهادي قوماندانانو دپکتيا په ولايت کی دجهادي سنګرونو داتل قوماندان الحاج مولانا جلال الدين حقانی تر مشری،لاندی غونډه وکړه او په هغی کی يی روسيی ته دهيئت دليږلو په اړه دجهادی تنظيمونو وروستی فيصله تر بحث لاندی‌ونيوله ، او تر هر اړخيز بحث اوڅيړنی وروسته يی دشرعي احکامو په رڼا کی زموږ دمجاهد ملت دغوښتنواوداسلامی انقلاب دسترو آرمانونو له مخی ديوپريکړه ليك په ترڅ کی روس ته دمجاهدينو دهيئت دليږلو په اړه خپل قاطع دريځ داسی څرګند کړ:

تر هغه چی روسانو په کابل کی دخپل مزدور رژيم له پوځی ، اقتصادی اوسياسی مرستو نه لاس نه وی اخيستی اومجاهدين يی دافغانستان دملت دواقعی نمايندګانو په توګه په رسميت نه وی پيژندلی ،موږ دسنګرمجاهدين ورسره هر وخت ، هر ځای او دهر چا له خوا مذاکرات په کلکه ردوو ، او داکار دجهاد دآرمانونو سره خيانت بولو. موږ په ډاګه وايو اوسنی هيئت چی له روسانو سره دخبرو لپاره مسکو ته ځی دادافغانستان دمجاهد ملت نماينده نه دی ،

موږ به تر هغه چی دمجاهدينو په لاس چی دافغانستان دمجاهد ملت ريښتينی نمايندګان دي ، اسلامی حکومت نه وی جوړ شوی ، خپل فی سبيل الله جهاد ته ادامه ورکوو.

دجهادی قوماندانانوپريکړه ليك په پای کی له ټولو جهادی قوتونو څخه هيله کوی چی داوسنی سياسی وضعی په پام کی نيولو سره دجهاد دنتايجو دبشپړ تحقق په منظوردیوی انتقالی دوری لپاره داسلامی مؤقت حکومت دجوړولو په برخه کی عملی او مخلصانه اقدام وکړی او که نه دعواقبو شرعی مسووليت به ددوی په غاړه وی. جهادی تنظيمونه چی اوس روسيی ته دهيئت ليږلو لپاره هوړمن شوی دی ، اودبيلابيلو ملحوظاتو له مخی په دغه اړه داسی دريځ نيولو اوپريکړی ته اړوتی دی ، داچی دوی ټول به داخپل هوډ ترسره کړای شی اوکه نه ، اويا به دهيئت تر ليږلو دمخه ديوی ټاکلی اجندا په جوړولو موافقی ته ورسيږی اوکه نه ، اوددغه هيئت په ترکيب کی به چی مشری يی ديو جهادی تنظيم امير په غاړه لری نورجهادی تنظيمونه به کومه سويه نمايندګان ورشامل کړی دوی به له روسانو نه څه وغواړی ،اويا روسان له دوی نه څه توقع لری ، داټولی هغه پوښتنی دی چی دوخت په تيريدو دحالاتو بهير کی پخپله ځوابيدای شی ، موږ په اوس وخت کی له روسانو سره دخبرو اترو په اړه دفترونو له فيصلو څخه دسنګرونو پريکړو اوفيصلو ته تر جيح ورکوو ،او تر هغه چی روسانو دخپلو ملحدو مزدورانو له مرستی نه په تمامه معنی لاس نه وی اخيستی او مجاهدين يی دافغانستان دملت دواقعی نمايندګانو په توګه په رسميت نه وی پيژندلی دافغانستان دقضيی په اړه له روسانو سره دمجاهد په نوم دهرچاهرډول خبری اتری مردودی ، اوبی ځايه کڼواودجهاد أواسلامی انقلاب داهدافو اوارمانونو خلاف ... اقدام‌بولو .

وما علينا الابلاغ

دهند او امريکا تر منځ دنظامی مرستو معاهده

نوی دهلی ، دعقرب ٤ مه :

دهند او امريکا دحکومتونو تر منځ يوه معاهده لاسليك شوی چی دهغی له مخی به امريکا او هند په دری واړو ځمکنی هوايی اوبحری ، پوځی برخو کی دلاپرمختګ لپاره مرستی کوی.

يوی هندی ورځپاڼی ددی خبر دخپرولو په ترڅ کی زياته کړی ده چی دغه معاهده له هند څخه په بحرالکاهل کی دامريکا دبحری پوځ دعمومی قوماندان دليدنی کتنی په وخت لاسليك شوی ده.

په خبرونو کی ويل شوی چی ددی معاهدی نور تفصيلات به دراتلونکی جنوری په مياشت کی ښکاره شی .

دياودونی وړده چی هندله آزادی وروسته تل دروسيی سره نظامی اوغير نظامی تړونونه درلودلی ، خو دروس دوضعی له خرابوالی وروسته يی اوس دامريکا لمنی ته لاس اوږد کړی .

دعراق په سليمانيه ښار کی دکُردانوډله ايز قبرونه پيداشوی

بغداد ، دپاکستان ورځپانه :

دعراق دکردستان دټينواجتماعی اوسياسی تنظيمونو مشرانو اعلان کړی چی دوی دکردانو دعامه وژنی دثبوت په توګه دسل ګونو وژل شويو کردانو ډله ايزقبرونه پيداکړی ـ

چی دعراق پوځ له خوا وژل شوی .

دعراق دکردستان يوی ازادی راډيو ويلی دي چی،عراق پوځ دکردانو په مختلفو سيمو اوکليو باندی دخپلو وروستيو حملو په ترڅ کی دسليمانيه ښار په سل ګونو اوسيدونکی په ډله ايزه توګه وژلی او وروسته يی په يو ځای قبرونو کی خښ کړی .

دياودنی وړده چی دعراق دکردستان اوسيدونکو اوسياسی تنظيمونو دخليج جګړی نه وروسته خپل دازادی غوښتنی غږ يو ځل بيا رااوچت کړ، چی دوحشی صدام له خوا په ډيره بی رحمی سره سرکوب شول ،اوپه زرګونو بی ګناه انسانان يی ووژل ،چی دغه ډول يوځايی قبرونه ددی وژنو دثبوت په توګه اوس راپيدا شوی دی

دراولين آزمايش اتومی روسيه ٤٤ هزار افراد ارتش به قتل رسيدند

مسکو ،راديوی المان :

روزنامه «پروادا » ارګان نشراتی حزب کمونست روسيه برای اولين بار اعتراف نموده است که در جريان اولين ازمايش مخفی اتومی روسيه در سال ۱۹٥٤ تقريباً ٤٤ هزار تن از افراد ارتش روسيه به قتل رسيده اند .

به اساس خبر منتشرهراديو صدای المان روزنامه مذکور نوشته است که درجريان اين ازمايش اتومی به ٤٤ هزار افراد ارتش لباس وماسك مخصوص محافظتی تهيه نشده بود ، که از جمله ٤٤هزار تن مذکور تنها ١٤تن ان باقی مانده بودند ، وبقيه همه قربانی جنايت اتوم سردمداران روسيه شدند ،به اين ترتيب اين واقعه رامی توان يکی‌از جنايات ديګر مکتب وحشی و ضد بشری کمونيزم خواند.

دمغلستان کمونست حکمران په يوه لسيزه کی يولك انسانان وژلی

مغلستان ، دنوای وقت ورځپانه :

دمغلستان واکدارانو ويلی دی چی د۱۹۳۰ په لسيزه کی ددی هيواد کمونست ديکتاتور ، مارشال چويبی يلسان په دسته جمعی وژنی باندی لاس پوری کړی چی پدی موده کی يی ۱۰۰ زره کسان په قتل رسولی.

تردی مخکی په رسمی توګه يوازی د۳٥ زرو تنو دوژل کيدو اعتراف شوی‌وو ، ولی پدی وروستيو کی دروسيی سرحد ته نژدی ددی هيواد په شمال لويديزه برخه کی ديوه پراخه اولوی قبر په راپيداکيدو سره ددی قتل عام نور اثار هم راخرګند شول ، چی تر هغی وروسته دمريو شمير ۱۰۰ زره کسانو ته رسيدلی ، ددی وژل شويو کسانو زياته برخه بودانی مذهبه رهبان دی دمغلستان په شمال لويديزه برخه کی چی ګله دتندو توپانونو له امله دځمکی له سرنه خاوره لری شوه ، نودبی شميره انسانانو ککری اوهډوکی له ځمکی راووتل ، چی زياتره دشاله لوری په ګولی ويشتل شوی‌وو.

دادی بشريت ته دکمونيزم دوحشی اومنحطی فلسفی پيغام ، دلينن ، استالين اونورو جنايتکارانو وروسته دمغلستان کمونست ديکتاتور هم په خپل وار دانسانيت اوبشريت سره خپله دښمنی په ډاګه کړی

دهيئت تحرير تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۲۳)
يونيورستي ټاون پيښور
تيلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضيا «ذهين بابري»

دهيواد په تودومورچلو کی

کندهار :

دميډيا درپوټ په اساس دکندهار ولايت مجاهدينو دکاريز ملنګ پر پوستو دبريد په ترڅ کی درژيم يوه پوسته فتحه کړی ، درژيم يو شمير افراد وژل شوی اوه تنه نور يی ژوندی نيولی دی .

پدی جګړه کی مجاهدينو يوه عراده ټانك ، دوه ميله راکټ، ۸ ميله کلاشينکوف ديوی اندازی مهماتو سره ولجه کړی دی .

ديوه بل خبرله مخی مجاهدينو دميزان په ۲۷ مه نيټه دکندهار ښار قول اردو قشله ، ٦۳ غونډ اودمخابراتو ورکشاب دخپلو درنووسلوتربريد لاندی ونيول چی په نتيجه کی درژيم يو شمير نظامی سنګرونه ويجاړشوی ، يوه عراده جيپ موټر سوځيدلی اودښمن يو شمير افراد مړه اوټپيان شوی دی.

کابل :

به اساس راپور ميديا از ولسوالی پغمان ولايت کابل مجاهدين اين ولسوالی طی عمليات خويش بر سنګرهای دشمن در منطقه يکه توت بتاريخ ۲۹ ميزان يك عراده تانك ويك موتر نظامی راحريق،۷ تن ازسرنشينان آنرا به هلاکت رسانيدند ، همچنان طی يك حمله راکتی بر فرقه ۸ قرغه يك ديپوی مهمات رژيم به اتش کشيده شد.

هرات:

نمايندګی ميديا درکويته ازولايت هرات ګزارش می دهد که مجاهدين طی عمليات ۳ روزه خويش دراواخر برج ګذشته ۷ پوسته امنيتی رژيم درمنطقه قلعه نو وقلعه مليکی تخريب دوعراده تانك محاربوی حريق و۱٦ تن از مليشه های رژيم به هلاکت رسيده اند.

زابل :

دزابل له ولايت نه ميډيا ته رپوټ ورکړل شوی چی مجاهدينو ددی ولايت د مرکز امنيتی پوستی ترخپل بريد لاندی ونيولی چی درژيم له قواو څخه يوه پوسته فتحه ، اودښمن يو شمير افراد مړه يا ټپيان شوی همدارنګه مجاهدينو يوه اندازه وسلی اومهمات هم ولجه کړی دی .

سمنګان :

يك منبع جهادی ولايت سمنګان به ميديا راپورداد که مجاهدين اين ولايت پوسته های امنيتی شهر ايبك مرکز ولايت مذکور راهدف حمله قرار دادند که درنتيجه يك پوسته فتح ، يك پوسته‌ديګر راتخريب و ۲٥ تن ازافراد دشمن راهلاك نمودند ، همچنان ۱٥ تن از افراد رژيم زخمی و۸ تن ديګر به اسارت مجاهدين درامدند.

بلخ :

دبلخ له ولايت نه ميډيا درپوټ له مخی ويل کيږی چی مجاهدينو ددرنو وسلو دډزو په وسيله دمزارشريف دښار امنيتی پوستی تر بريد لاندی ونيولی چی دقومان په نامه يوه پوسته فتحه ددښمن يو شمير عسکراو مليشه مړه او(٥) تنه په اسارت ونيول شول ، مجاهدينو پدی عملياتو کی يو ميل ګرينوف ٥ ميله کلاشينکوف اويومقدار مهمات اوخوراکی مواد په ولجه ونيول.

مخالفت وسيع همه مردم هندوستان عليه تعيمر درمسال دراجودهيا

دهلی جديد ، ۳ عقرب :

مخالفت عليه اقدام هندوهای متعصب درمورد تعمير درمسال درساحه مسجد بابری واقع درايالت اترپرديش هند ، رو بروز شدت می ګيرد .

به اساس ګزارش راديو بی ، بی ، سی همه احزاب سياسی هند از موقف سالم مسلمانان ان کشور دراين مورد اظهار حمايت نموده اند يك عضو کمسيون تحفظ مسجد بابری ضمن مصاحبه باراديو بی ، بی ، سی اظهار داشته است مسئله مسجد بابری واعمار درمسال اګر موضوع تاريخی است بايد از طريق مراجعه به تاريخ دانان واګر موضوع مذهبی است به مردم مذهبی راجع ګردد ، واګر موضوع سياسی است ، بايد از طريق بحث درپارلمان حل ګردد. ولی هندوهای متعصب می خواهند ازطريق زور در منطقه مسجد بابری درمسال اعمار کنند که هيچ ثبوت تاريخی ندارند .

موصوف افزود ،همه ګروهاواقشار مردم هند و اکثريت تنظيم های سياسی هند دراين مورد از موقف مسلمانان حمايت می کنند .